PROPERTY OF ACKU

اراده DAILY

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۰۹

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۱۰۰۹ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۸۴ گڼه د ۱۳۹۰ ل.دوری ۱۰ مه - د چهار شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ربیع الثاني ۲۴مه د ۲۰۱۱ دمارچ ۳۰ مه

روسان او افغانستان ته يې تازه لېوالتيا

په دې وروستيو کې له افغانستان سره د روسې چارواکو لېوالتيا په بې کچه توګه زياته شوې ده. دا څو ورځې کېږي، چې د دغه هېواد لوړ پوړي چارواکو په پرله پسې توګه د افغانستان په تړاو بېلابېلې څرګندونې او بيانيې لري. تيره ورځ، د روسيې د بهر نيو چارو وزير سرګي لاروف رسنيو ته وويل، چې هيله لري د تروريزم پرضد د مبارزې له پاي ته رسېدو وروسته به افغانستان د يوه بې پلوه هېواد مقام ولري. لاروف چې په مسکو کې په يوه خبري غونډه کې خبرې کولې، زياته کړه: "افغانستان د خپل تاريخ په اوږدو کې **۳مخ**

تصفیۀ دوسیه های فساد، روندی که هیچگاه به واقعیت نخواهد پیوست!

لوی سارنوالی در این اواخر، طی یک اقدام بی سابقه، دست به توقیف چهره هایی زد که به نحوی از انحاء متهم به دست داشتن در فساد و اختلاس می باشند.

روز دوشنبه منابع این نهاد اعلام داشت که این اداره، عنایت الله قاسمی وزیر سابق ترانسپورت و هوانوردی را به جرم اختلاس توقیف نموده است. از این رویداد ساعاتی سپری نشده بود که دیروز منابع لوی سارنوالی به رسانه ها گفت که رییس عمومی آیسا، به اتهام فساد مالی از سوی سارنوالی ممنوع الخروج اعلام گریده است.

باید گفت، فساد و اختلاس یکی از معضله های اساسی امروزی جامعۀ ماست، حتا گفته می شود که این پدیدۀ شوم سرمنشاء اکثر نابسامانی های جاری در کشور است. این پدیده، امروز در اداره های دولتی و غیردولتی به اندازۀ مروج و شیوع یافته که حتی کسی تصور کرده نمی تواند، روزی سایۀ آن از اداره های افغانستان دور و دامن آن برچیده شود.

گفته می شود که در معضلۀ فساد بیشتر مقام های ردۀ اول دولتی دست دارند؛ این موضوعی است که خود آقای کرزی نیز، بار بار به آن اعتراف کرده است. به باور اکثر مردم، هرچند دولت در گذشته ها، زیر نام مبارزه با فساد و ارتشاء، اداره های گوناگونی را تشکیل داده است، اما تا کنون در عمل، دستاوردی های قابل ذکری در این راستا نداشته است.

علت اینکه چرا اداره های مربوط دولتی نتوانسته و یا نخواسته در این راستا مبارزۀ جدی نمایند، پاسخ این پرسش بر همه روشن است. در این شبکه، چهره ها **ص۳**

تکراري وژنې، بې ګټې بښنې

دامريکا د دفاع وزارت 'پنټاګان' په يوه امريکايي مجله کې دامريکايي پوځيانو له خوا د ملکي وژل شوو افغانانو د انځورونو ترخپره ډاوروسته بيا بښنه غوښتې ده.

پنټاګان وايي په 'کلېکارل رولينګ ستون' مجله کې دغه چاپ شوي عکسونه ټکان ورکوونکي او دامريکا د پوځي ارزښتونو خلاف کار دی.

تېره اوونۍ د درو ناپوځي افغانانو په وژنې او تر اعتراف کولو وروسته يوه امريکايي پوځي ته د ۲۴ کلونو بند سزا ورکړل شوه.

په دغو تصويرونو کې امريکايي سرتېري ښودل کېږي، چې په افغانستان کې د يوه وژل شوي افغان جسد ته سپکاوی کوي.

دغه تصويرونه ويل کيږي چې د هغو شاوخوا ۴۰۰۰ تصويرونو له جملې دي چې د افغانستان په کندهار ولايت کې دامريکايي ځواکونو د عملياتو پر مهال اخيستل شوي دي.

متحده ايالتونو د دغو تصويرونو له کبله د رامنځ ته شويو اندېښنو د کرارولو لپاره چټک ګام پورته کړی.

خلور نور پوځيان دا مهال د محاکمه کېدو په انتظار دي.

تېره اوونۍ همدغه عکسونه د جرمني په 'دير شپيګل' ورځپاڼه کې هم خپاره شوي ول.

دامريکا پوځ په يوه خپره شوې ويناپاڼه کې ويلي دا انځورونه د هغو افغان ولسي وګړو دي، چې تېر کال د امريکايي پوځيانو له خوا وژل شوي.



دامريکا د پوځي سرچينو په حواله، 'کلېکارل رولينګ ستون' محلې شاوخوا ۱۵۰ انځورونه خپاره کړي، چې ۱۷ يې پر خپله وېبپاڼه هم اېښي دي.

پر يادې وېبپاڼه پر افغانانو دامريکايي پوځيانو د بريد دوې وېډيوګانې هم اېښودل شوې دي.

د دغې مجلې په اړه دا مالومات لا نشته، چې ايا دغه انځورونه يې له کوم ځايه پيدا کړي.

د دغو انځورونو د خپرولو په غبرګون کې دامريکا پوځ ويلي، "که دا انځوورونه د خپرېدو په اړه پايله هرڅه وي" دوی به ارومرو دا پلټنه کوي.

پوځ په ويناپاڼه کې کارلي "د رولينګ ستون مجلې له لوري دا انځورونو خپرول دامريکا د پوځ له ارزښتونو او معيارونو سره په ټکر کې کار دی".

خبرپاڼه زياتوي: "د دير شپيګل مجې په خبر **۳مخ**



د مسوولیتونو د انتقال پروسه او د وسلوالو له خوا د ولسوالیو د سقوط پیل

۲

افغان حکومت د کابل بانک د منحلولو هوکړه وکړه

افغان چارواکو دامریکا او نړیوال وجهي صندوق د فشارونو په نتیجه کې د کابل بانک منحلولو ته غاړه اېښې. مخکې تصمیم نیول شوی و، چې د دغه بانک سرمایې به امانت او چارې به یې دافغانستان بانک له خوا سمبالېږي.



د افغانستان بانک چارواکو د امریکا او نړیوال وجهي صندوق د فشارونو په نتیجه کې پرېکړه وکړه چې د کابل بانک منحلولو ته غاړه کېښوده. کابل بانک په افغانستان کې له ټولو لوی خصوصي بانک دی، چې یوشمېر لوړرتبه چارواکي او د هغوی خپلوان يې په اداره چارو او **۳مخ**

ویکي لیکس:

په سلګونو افغان ځوانان چې د کار په موخه ایران ته ځي، د ایران له خوا وسلوال او بېرته افغانستان ته رالېږل کېږي

ویکي لیکس یو ځل بیا پخپلو تازه معلوماتو کې د ولسمشر کرزي د دفتر د پخواني رییس داوودزي له خولې لیکلي، چې د ایران او پاکستان تر څنګ سعودي هم له ځینو وسلوالو طالبانو سره مرستې کوي. د معلوماتو افشاکوونکې وېبپاڼه ویکي لیکس، چې کله د امریکا دیپلوماتیکي او سفارتي پټ معلومات تر لاسه کړي له تېر یوه کال راهیسې يې په خپله وېبپاڼه او یا يې د ځینو نړیوالو رسنیو له لارې خپروي. ویکي لیکس دا ځل هغه لیک خپور کړی، چې په کابل کې د امریکا مرستیال سفیر ریکارډون (Ricciardone) د ۲۰۱۰ زېږدي کال د فبروري پر درېیمه واشنګټن ته لېږلی و. د امریکا مرستیال سفیر په دغه لیک کې هغه څرګندونې لیکلي، چې د ولسمشر حامد کرزي د دفتر له رییس محمد عمر داوودزي سره يې یوه ورځ مخکې لیدلي وو. په دې لیدنه کې داوودزي ویلي، چې د پاکستان او ایران تر څنګ سعودي عربستان هم په افغانستان کې د خپلې خوښې له ځینو وسلوالو طالبانو سره مرستې کوي. **۳مخ**

افغان سوداګرو له کراچۍ بندره د خپلو توکیو لېږد پېل کړی

افغان سوداګرو له کراچۍ بندر څخه د خپلو توکیو لېږد پېل کړی او تمه ده، چې په راتلونکیو درېیو اونیو کې شاوخوا لس زره کانټینره سوداګریز توکي هېواد ته راولېږدوي. د پاکستان له خوا له تېرو شاوخوا ۷ میاشتو راهیسې د کراچۍ په بندر کې د افغان سوداګرو سوداګریز توکي درول کېدل، چې دغه مهال يې شمېر شاوخوا ۱۰ زره کانټینرو ته رسېدلی دی.

مخکې د افغان سوداګرو توکي د کراچۍ له بندر څخه تر پېښوره د نیمه دولتي پاکستاني شرکت (ان ایل سي) لخوا لېږدول کېدل او نورو موټرو ته اجازه نه وه، چې دغه توکي ولېږدوي.

د خپرو شویو خبرونو له مخې، ان ایل سي شرکت د دې توان نه درلود، چې د افغان سوداګرو ټول توکي په خپل وخت ولېږدوي. شاوخوا یوه اونۍ مخکې د پاکستان حکومت دا ان ایل سي شرکت اړوند ټول محدودیتونه لرې کړل او افغان سوداګرو ته يې اجازه ورکړه، چې خپل توکي د نورو ترانسپورتي شرکتونو په لاریو کې ولېږدوي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزیر انورالحق احدي پرون په کابل کې خبریالانو ته **۳مخ**

د مسوولیتونو د انتقال پروسه او د وسلوالو له خوا د ولسوالیو د سقوط پیل

میوند



سره له دې چې حامد کرزي د نوروز پر لومړۍ ورځ اعلان وکړ، چې په هېواد کې به د ځینو سیمو امنیت سرکال افغان ځواکونو ته سپارل کېږي او هغوی به له ناټو ځواکونو پرته په یوازې سر د دغو سیمو امنیت ته اوړه ورکوي، په دغو سیمو کې د کابل د ځینو ولسوالیو بغیر د کابل، پنجشیر، مهترلام ښار، لښکر ګاه ښار او بدخشان ولایتونه شامل دي او شاید د سرکال په اوږدو کې د دغو سیمو د امنتي چارو مسوولیت افغان پوځونو ته وسپارل شي او د کرزي د وینا له مخې به ورو ورو دا پروسه نورو سیمو او ولایتونو ته هم وغځېږي. خو په همدې حال کې پرون سهار د رسنیو له خوا داسې خبرونه نشر شول، چې د نورستان د وانټ وایګل ولسوالۍ سقوط وکړ. پرون د نورستان امنیه قوماندان وویل، چې وسلوالو طالبانو سهار د نورستان د وانټ وایګل ولسوالي ونیوله. امنیه قوماندان شمس الرحمن نورستاني د وري پر ۹ مه رسنیو ته وویل، چې سهار پنځه بجې وسلوالو طالبانو د وانټ وایګل پر ولسوالۍ برید وکړ او تر لږ مقاومت وروسته یې یاده ولسوالي تر خپل تصرف لاندې راوسته. نوموړي له مرکزي دولت څخه غوښتنه وکړه، چې پولیسو ته باید سپکې او درنې وسلې ورکړي، ځکه چې دلته پولیس په کافي اندازه وسلې او مهمات نه لري. د دې ولسوالۍ پخواني امنیه قوماندان، چې په وانټ وایګل ولسوالۍ کې اوسېږي وویل، سهار وختي شاوخوا ۳۰۰ وسلوالو طالبانو د وانټ وایګل پر ولسوالۍ حمله وکړه او تر خپل کنټرول لاندې یې راوستله. بل لور ته طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وویل، چې د وایګل پر ولسوالۍ یې د سپکو او درنو وسلو برید وکړ، چې تر لږ مقاومت وروسته پولیس له سیمې تښتېدلي او ولسوالي د دوی په ولکه کې ده. دا په داسې حال کې ده، چې څه موده مخکې د نورستان امنیه قومندان ویلي وو، چې که نورستان ته نور پوځونه، وسلې او مهمات ونه لېږل شي، شاید ځینې ولسوالۍ له سقوط سره مخ شي او په همدې ارتباط د تېر لمریز کال په ورستیو شپو او ورځو کې هم د نورستان د برګمتال ولسوالۍ په هکله داسې راپورونه نشر شول، چې ګواکي له سقط سره مخ ده. نورستان تر ډېره یو غرنی ولایت دی او له پراخو او ګڼو درو څخه جوړ دی، نو دا چې په ژمي کې پوځي عملیاتو ته جوړ نه دی، نو په پسرلي کې یې محیط دې ته جوړ پرې، چې وسلوال مخالفین په کې په اسانه خپلو فعالیتونو ته مخه کړي، نو په دې توګه د دې امکان هم لرې نه دی، چې که د نوروستان اوسنی وضعیت همداسې دوام وموميِ، ټولې ولسوالۍ او ان ولایت هم سقوط ۳مخ

آواره گی و مهاجرت افغان ها چه وقت پایان خواهد یافت؟

محمداحسان پنجشیری

پدیده یی به نام مهاجرت که از اواخر دهۀ پنجاه خورشیدی بر افغانها تحمیل شد، تا هنوز ادامه داشته و با استقرار صلح بعد از فرایند بن نیز این پروندۀ مهاجرت به صورت کل بسته نشده است. پرسشی که در این راستا وجود دارد، این است که چه وقت به عامل اصلی مهاجرت پرداخته می شود؟ افغانها از مهاجرت هایی که هیچ تضمینی برای آیندۀ او وجود ندارد، به شدت نگران است.

مهاجرت میلیونی افغان ها به دو کشور پاکستان و ایران که بیشتر از هر کشور دیگر در سه دهۀ گذشته صورت گرفته، هنوز ادامه دارد. جنگ و خشونت که از طرف بعضی حلقات زیر نام کلمۀ مقدس طالب و ملا خود را پوشانده که اصلاً با دین و آیین اسلام هیچ آگاهی و آشنایی نداشته، با حملات انتحاری، انفجاری و بم های کنار جاده یی افراد بیگناه، بی دفاع و ملکی را هدف قرار داده و آن ها را قربانی خواسته های بیگانگان می نمایند، عامل اولیه و اساسی مهاجرت افغان ها به خارج از کشور بوده که به دهۀ ۶۰ و ۷۰ خورشیدی بر می گردد.

مهاجران افغان که در حال حاضر بیشتر در دو کشور پاکستان و ایران به سر می برند، شمار قابل توجه آن ها با آغاز فرایند بن و سال های پس از آن به کشور برگشتند. اما عامل ناامنی، مهاجرت دوباره آن ها را به این دو کشور به دنبال داشته است. آن عده از مهاجران افغان که حتا بعد از فرایند بن نیز، به کشور بر نگشته بودند، تصمیم جدی در برگشتن به کشور داشتند، اما همین عامل حملات انتحاری و ناامنی، مانع این بازگشت شده است.

در ده سال گذشته، بعد از جرگۀ بن، شرایط وضع شده در دو کشور ایران و پاکستان بالای مهاجران افغان سخت از گذشته شده و استقرار صلح در افغانستان از دلایل آن بوده است که به سطح نسبی برقرار شده واقعیت هم همین است که کنفرانس بن زمینۀ استقرار صلح در افغانستان محسوب می گردید، اما بدبختانه این کنفرانس جلو برده هایی که به دستور بیگانگان بالای افراد ملکی مانند یک هیولا حمله ور گردیده و از هیچ گونه بی رحمی در حق این مردم ستمدیده دریغ نمی ورزند، نتوانست صلح کامل را به افغانستان به وجود آورد.

تاز مانی که این برده ها به عمل وحشیانه خود ادامه دهند، مهاجرت نیز ادامه خواهد داشت. افغان ها، دیگر به مهاجرت عادت گرفته اند و زنده گی در مهاجرت با تمام دشواری هایی که دارد، تحمل کنند. وضعیت زنده گی مهاجران افغان در پاکستان و ایران با فشار روانی زیادی همراه است که از سوی نهادهای امنیتی و قضایی، کار صورت می گیرد. اما با تمام این ها حاضر اند، تا به زنده گی روزمرۀ بخور و نمیر شان ادامه بدهند.

اخراج گاه و بیگاه مهاجران افغان از ایران و پاکستان در سه دهۀ گذشته بار بار صورت گرفته است. این ادامۀ روندی است که در این دو کشور دولت های آنها در سال های مهاجرت افغان ها، با مهاجران افغان در پیش گرفته اند. به نظر می رسد، این وضعیت دیگر نهادینه شده است.

در ده سال گذشته، بسیاری از افغان هایی که دوباره به ایران مهاجرت کرده اند و بیشتر آن ها به صورت قانونی و با اخذ ویزه به این مهاجرت ناخواسته تن در داده اند، با سپری شدن موعد ویزۀ شان، مهاجران غیرمجاز به شمار می آیند. این دسته از مهاجران که عامل جنگ و تباهی، بیشتر آن ها را به مهاجرت دوباره مجبور ساخته است، بازهم مجبور هستند بمانند، با اینکه هر لحظه خطر اخراج، آن ها را تهدید می کند.

از آنچه گفته آمدیم باید ابراز داشت که واقعاً مهاجران افغان دریک حالت اسفناک و مملو از درد و آلام قرار دارند. بر گروه های مخالف است، تا دست از برادرکشی و جنگ برداشته به پروسۀ صلح لبیک گفته و نگذارند، هموطنان شان به خاطر ناامنی و بی ثباتی روانۀ دیار غربت گردند.

د ولوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

معمای لاینحل لغو محکمۀ اختصاصی

صدور فرمان های غیر مرعی الاجرا از جمله پرنسیپ های نافرجام دولتمردان این کشورگردیده است.

هنگامی که شهروندان کابل از ایجاد موانع دیوارهای سمنتی در مقابل موسسات دولتی و نهادهای غیر دولتی شکایت داشتند، از مقام ریاست جمهوری فرمانی صادر گردید که به زودترین فرصت این موانع از سر راه عابران برچیده شده و مشکل شهریان کابل از این ناحیه مرفوع گردد. اما با گذشت چندین ماه، پیامد فرمان همان است که قبل از صدور فرمان بود. نه موانع ازسر راه مردم دور شد و نه فرمان جنبۀ عملی پیدا نمود.

همین دو سه ماه قبل بود که فرمان لغو کمپنی های خصوصی امنیتی صادر شد، تا افراد نهادهای امنیتی که نظر به متن فرمان، روز در لباس افراد امنیتی و شب در لباس طالب ظاهر می شوند و امنیت مردم را به خطر مواجه می سازند، باید هر چه عاجلتر لغو گردد، این التیماتوم آنقدر جدی بود که برای تطبیق این پروسه، میعادی نیز تعیین گردید.

اما با ختم میعاد معینه نه این کمپنی ها لغو شد و نه پرسونل آن به نهادهای امنیتی کشور جذب گردید.

به سلسلۀ صدور این نوع فرمان ها، مدت سه هفته است که اعضای قوای ثلاثۀ کشور یعنی قوۀ مقننه، مجریه و قضاییه به خاطر صدور فرمانی به منظور ایجاد محکمۀ ویژۀ بررسی نتایج انتخابات دست به گریبان اند.

همین هفتۀ گذشته بود که رییس جمهور در دیدار با هیأت اداری مجلس نماینده گان به شمول رییس این مجلس وعده سپرد که محکمۀ ویژۀ انتخابات را ملغی می نماید.

اما بعد از دو سه دید و بازدیدها ظاهراً این وعده ها جامۀ عمل نپوشید و سرانجام نظر به اظهارات عبدالرووف ابراهیمی رییس ولسی جرگه این معضله تا بازگشت رییس جمهور از سفر ایران به تعویق افتاد.

اما تا روز سه شنبه که آخرین روز تصمیم گیری رییس جمهور پیرامون این موضوع بود، فرمانی مبنی بر الغای این محکمه صادر نگردید.

قانون دانان کشور ابراز نظرنموده اند که لغو این محکمه از صلاحیت های رییس جمهور نبوده و ستره محکمۀ افغانستان یگانه مرجع با صلاحیتی است که می تواند، در این باره فیصله صادر نماید.

از جانب دیگر، بعضی از نماینده گان مجلس به این باور اند که نظر به فیصلۀ این محکمه ۵۳ تن از وکلای فعلی در مجلس نماینده گان، اخراج خواهند شد و به جای آنها عکس و تذکره های ۵۳ وکیل دیگر خواسته شده است که قرار است، تا روز چهار شنبه نتایج نهایی محکمۀ اختصاصی اعلان گردد.

با در نظرداشت قانون اساسی که لغو این محکمه را از صلاحیت رییس جمهور نمی داند، اگر قرار باشد که این محکمه فرمان خود را مبنی بر تعویض چندین تن از وکلا صادر نماید و یا در جریان این کشمکش ها، ستره محکمۀ افغانستان فیصلۀ نهایی خود را در بارۀ الغای این محکمه صادر نماید، چه محشری در سطح ملی در کشور بر پا خواهد شد و چه نزاعی بین ارگان های ثلاثه به وقوع خواهد پیوست؟ آنهم فقط به خاطر صدور فرمان ناعاقبت اندیشانه که پیامدش بحران زا وجنجال بر انگیز است. چرا عاقل کند کاری که ببار آرد پشیمانی.

تصفیهٔ دوسیه های فساد، روندی ...

و مهره هایی در کار است که بیشتر شان، در دولت صاحب نام و نشان و مقام بالایی هستند که به هیچ صورت کسی نمی تواند، به گفتهٔ ضرب المثل عامیانهٔ " به طرف شان چپ ببیند". به همین اساس، اینکه دولت تا کنون نتوانسته در این راستا دستاوردی داشته باشد و یا گام های کارا بردارد، یکی از عوامل اساسی آن، همین علت یادشده است.

باید گفت که در گذشته ها نیز، نهادهای مسوول دولتی، کسانی را به اتهام فساد به محکمه کشانده و دوسیهٔ های آنان را مورد پیگرد قرار داده اند، اما پسان ها دیده شده که این همه تلاش ها، بنا بر عوامل ناپیدا و مرموز، از دوران عدلی و قضایی بازمانده است.

شاید جریان دوسیهٔ شاروال سابق و آقای چکری وزیر سابق حج و اوقاف را همه به یاد داشته باشند؛ دوسیه های اشخاص یادشده نیز، از سوی سارنوالی مورد رسیده گی قرار گرفت و حتا از شاروال صاحب سابقه به محکمه نیز فرستاده شد، اما به دلایل مختلف که می توان در جملهٔ آن حمایت های تیمی و گروهی را نیز به شمار آورد، از پیگردهای بعدی بازماند.

اینکه اکنون لوی سارنوالی باردیگر کمر همت بسته و در راستای محو فساد و مجازات فساد پشه گان در پی برداشتن گام های استوار می باشد، ببینم این گام ها استوار می ماند، و یا بازهم مانند گذشته، یک نمایش مصلحتی بوده که با گذشت زمان اندک، با به میان آمدن زدوبندهای گروهی و حزبی درون قدرت، باردیگر فراموش خاطره ها می گردد، این مسأله یی است که کارکردهای روز های آیندهٔ نهادهای عدلی و قضایی کشور به آن پاسخ روشنی ارایه خواهد داشت.

کشور هالند بسیار علاقمند است که ...

کردیم ارگان داخلی، و در کنار آن ارگان های دیگر از جمله صلیب سرخ، آژانس های سازمان ملل متحد و سازمان های غیر دولتی را کمک کنیم.

در هنگام بازدید از هرات، مزار شریف، ولایت بلخ، جلال آباد، قندهار و کابل من عمیقاً از مقیاس تخریبات ناشی از جنگ داخلی تحت تاثیر قرار گرفته بودم و از طرف دیگر قدرت، جسارت و مهمان نوازی افغان ها مرا شگفت انگیز کرده بود. در کنار این مسایل، کشور شما ارایه کنندهٔ زیبایی های چشم انداز از جمله مساجد و میراث فرهنگی است. علاقمندی من به افغانستان در ۱۵ سال اخیر پا برجا مانده و جای خوشحالی بود که حتاالمقدور جهت ایجاد آیندهٔ بهتر کمک توانستم.

د مسوولیتونو د انتقال پروسه او د ...

وکړي. په همدې حال کې د مخالفینو د حملو د زیاتېدو په اړه د اندېښنو په زیاتوالي سره ناټو چارواکي وایي، دوی به سر کال پرمخالفینو خپلې یرغلیزې ستراتیژۍ ته دوام ورکړي. د ناټو یو ویاند جوزف بلاټنر وایي: "موږ د یوه پسرلني یرغل په انتظار یو، دغه یرغل ښایي د اپریل یا د مې په میاشت کې چې د تریاکو د حاصلاتو د راټولو وخت به وي، ترسره شي. موږ هڅه کوو چې شرایطو ته داسې بدلون ورکړو، چې کله مخالفین حمله وکړي، د تیر کال په پرتله له لا سختو شرایطو سره مخ شي. هڅه کوو داسې چمتوالی ولرو، چې د دې فرصت ولرو، چې ملکي خلکو ته د مرګ ژوبلې مخنیوی وشي." په هر صورت دا چې له یوې خوا افغان ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د انتقال د پروسې خبرې کېږي او عملي جنبه غوره کوي، له بلې خوا د وسوالو مخالفینو د تقویې ځپې هم راپورته کېږي او په دې ډول دا پروسه له خنډونو او پوښتنو سره مخ کوي. دا یوازې نورستان نه دی، چې نن له داسې وضعیت سره مخ دی، بلکې په هېواد کې ځینې نورې سیمې او ولسوالۍ هم له دې ډول سرنوشت سره مخ دي. دا چې وسلوال مخالفین د قوي کېدو او ځواکمنېدو په حالت کې دي او د دې وس پیدا کوي، چې یوه ولسوالي او ولایت تر خپل کنټرول لاندې راولي، نو په دې صورت کې به ځنګه د مسوولیتونو د انتقال پروسه پلې شي او ایا په دې سره به دا پروسه له خنډونو سره مخ نه شي او ایا ببرته به د بهرنیو ځواکونو شتون ته زمینه مساعده نه کړي؟

افغان حکومت د کابل بانک د ...

اسهامو کې برخه لري. واشنګټن پوسټ لیکي، د کابل بانک لانجه په افغانستان کې د پراخه اداري فساد یوه نمونه او مثال ګڼل کېږي. دغه بانک وروسته له دې له ستونزو سره مخ شو، چې تېر منی د بانک د لویو چارواکو له خوا د لویو پورونو او سرمایو لګولو خبره رامیدان ته شوه. دغې سرمایې پر ځینو داسې پروژو لګول شوي دي، چې زیان او ګټه یې دومره نه وه څرګنده. د دغو پروژو څخه یوه په دوبۍ کې د سمندر له غاړې ساختمانونه دي، چې یو یې په وړیا توګه د افغانستان د جمهور رییس ورور محمود کرزي ته وربښل شوی، چې دی هم په کابل بانک کې اسهام لري. واشنګټن پوسټ ورځپاڼه په خپل رپوټ کې زیاتوي: د کابل بانک بحران د افغانستان د دولت لپاره یو امتحان دی، چې دا داري فساد په مقابل کې مبارزه څرنګه پرمخ بیایي. د افغانستان د مالیې وزارت چارواکو ویل، د افغانستان بانک چارواکو چې د هېواد مالي سیستم میاشت فیصله وکړه، چې د کابل بانک ټوله دارایي به په امانت کې ږدي. مستور له دغې پروسې سره سم چې باید د یوې حکومتي کمیټې له خوا تصویب شي د کابل بانک ټولې مالي ذخیرې او فعال پورونه له سرمایه ګزاری او داسې پورونو چې اداکول یې ګران وي لرې ساتل کېږي. د افغانستان د مالیې وزارت مرستیال محمد مصطفی مستور د شنبې پر ورځ له واشنګټن پوسټ ورځپاڼې سره د مرکې په ترڅ کې وویل، چې موږ کوښښ کوو، چې د تاوانونو اندازه معلومه کړو ترڅو یې په چاره لاس پورې کړو. ده وویل، چې حکومت ځکه د کابل بانک دارایي امانت کړه، چې دغه اقدام د هېواد مالي سیستم پیاوړی کوي. د مالیې وزارت مرستیال زیاته کړه، چې حکومت به وروسته له دې د بانک لپاره یو خریدار پیدا کړي، ترڅو امانت شوې سرمایې خپلې کړي او نوی بانک پرې جوړ کړي. امریکا او نړیوال وجهي صندوق د کابل بانک د دارایي دامانت کولو لپاره ځکه فشار راوړی و، چې دغه کار د افغانستان کمزوري بانکي سیستم ته د بیا اعتبار او ډاډ ورکولو لپاره د ډېر موثره او لنډه لاره ده. کله چې په تېرې ډسمبر میاشتې کې د کابل بانک ستونزه څرګنده شوه، نو د افغانستان بانک د ډېر ژر د دغه بانک چارې په خپل لاس کې واخیستې او سلګونه ملیونه ډالر یې بانک ته ورکړل، چې پرې وچلېږي او د کابل بانک مشر کینو د بانک د افلاس له ویرې خپلې سرمایې وایستې. د افغانستان بانک چارواکو تېینګار کاوه، چې کابل بانک د څوکلونو لپاره د افغانستان بانک ترڅارنې لاندې پاتې شي، ترڅو یې چارې سمبال او وپلورل شي. دوی اندېښنه درلوده، چې که د بانک دارایي په امانت کېښودل شي نو مشترکین به د بانک د انحلال له ویرې یوځلې بیا د بانک شعبو ته مخه کړي او خپلې پیسې به وباسي. دازادي راډیو د راپور له مخې، نړیوال وجهي صندوق د کابل بانک د لانجې له امله په تېر مني کې د افغانستان لپاره خپل پروګرام وځنډاوه. د نړیوال وجهي صندوق چارواکو تېره میاشت د افغانستان له حکومته وغوښتل، چې د کابل بانک لانجه ژر حل کړي. دغه راز د امریکا د خزانې د وزیر مرستیال نیل اس وولین تېره میاشت په کابل کې جمهور رییس حامد کرزي، د مالیې وزیر او د افغانستان بانک له رییس سره وکتل. ده افغان مشران وهڅول چې د کابل بانک د لانجې د اعتبار وړ او موثر حل لپاره قاطعانه اوژر اقدامات وکړي.

په سلګونو افغان ځوانان چې د کار په ...

هغه زیاته کړې، چې پر افغانستان د وخت د شوروي اتحاد د برید پر مهال پاکستان، سعودي او ایران له مجاهدینو سره مرسته کړې وه، خو اوس د لوېدیځ ایتلاف پر ضد سعودي د پاکستان او ایران تر څنګ د ځینو طالبانو ملاتړ کوي. داوودزي په یاده شوې لیدنه کې د ایران په اړه ویلي، چې د ایران مرستې ګټې هم لري او زیان هم. د نومورې په وینا، ایران چې له کومو وسلوالو طالبانو سره مرسته کوي، هغه له ځانګړیو کسانو سره کېږي، ځکه چې د داوودزي په وینا، له کومو کسانو سره چې ایران مرسته کوي، هغه د طالبانو له مشر ملاعمر سره هېڅ اړیکې نه لري. واشنګټن ته په لېږل شوي لیک کې د داوودزي له خولې لیکل شوي: ((سلګونه هغه افغان ځوانان، چې په قانوني یا غیر قانوني توګه ایران ته د کار لپاره ځي، د ایران له خوا تر روزنې وروسته وسلوال کېږي او د بهرنیو ځواکونو پر ضد د جنګېدو لپاره یې رالېږي.)) داوودزي دا ادعا هم کړې، چې ایران هغو افغان ځوانانو ته د درېیو کلونو وېزې ورکوي، چې په ایراني بانکونو کې سل زره امریکایي ډالر کېږدي.

پژواک هڅه وکړه، چې په دې اړه د داوودزي نظر هم واخلي، خو له ډېرو هڅو سره سره ونه توانېد. د یادونې وړ ده، چې عمر داوودزی اوس په پاکستان کې د افغانستان د سفیر په توګه ټاکل شوی او کریم خرم د ولسمشر د دفتر د رییس په توګه ګومارل شوی دی.

تکراري وژنې، بې ګټې ...

د دا ډول عکسونو پر خپرولو د امریکا پوځ ښبنه غواړي، لاهم د امریکا پوځ د دا ډول جرمونو په اړه په اندېښنه کې دی. او موږ به خپلو پلټنو ته دوام ورکړو".

'لنډه غږ پوځیان':

داسې اټکل دی، چې دغه انځورونه د ۲۰۱۰ کال په اوږدو کې په افغانستان کې د مېشتو امریکایي پوځیانو د 'لنډه غږ پوځیانو' له لوري اخیستل شوي دي.

مورلاک پوځي قاضي ته د خپلې محاکمې پرمهال په خپلو اعترافاتو کې ویلي ''دوی په لوی لاس د خلکو د وژلو پلان درلود".

په انځورونو کې امریکایي پوځیان د وژل شوو ولسي افغانانو پر مړو خاندي او ملنډې پرې وهي.

تېره اوونۍ د دغو پوځیانو له ډلې یو پوځي جیریمي مورلاک تر اعتراف او د ولسي وګړو د وژلو د پرې تر منلو وروسته پر ۲۴ کلونو بند محکوم شو.

مورلاک پوځي قاضي ته د خپلې محاکمې پرمهال په خپلو اعترافاتو کې ویلي ''دوی په لوی لاس د خلکو د وژلو پلان درلود".

د بي بي د خبر له مخې، د تېر ۲۰۱۰ میلادي کال پرمهال د روانې جګړې په درشل کې په افغانستان کې تر ۲۷۰۰ ډېر ولسي وګړي وژل شوي، چې د تېر ۲۰۰۹ کال په پرتله د ولسي وګړو په مرګ ژوبله کې ۱۵ سلنه ډېروالی ښیي.

څو ورځې وړاندې په افغانستان کې د ولسي وګړو پر مرګ ژوبلې د ملګرو ملتونو یوه تازه رپوټ ویلي ول، چې طالبان په افغانستان کې د ۷۵۰ وژنو عاملین دي.

خو په رپوټ کې بیا ناټو تورنه شوې وه، چې په سلو کې د ولسي وګړو ۱۶٪ وژنې د دوی له لوري کېږي.

روسان او افغانستان ته یې تازه ...

د بې طرفې اوږده سابقه لري. زه ډاډه یم چې د افغانستان بې پرې توب به په سیمه کې د ثبات لپاره غوره لاروي. هغه همداراز څرګنده ده، چې افغانان به په خپله د خپلې راتلونکي په باب پرېکړه وکړي. فکر کوم دوی به په لېوالتیا سره د بې طرفې ګټې تشخیص کړي."

دا په داسې حال کې ده، چې وړمه ورځ یو بل لوړ پوړی روسي مقام هم د افغانستان په اړه عجیب او غریب څرګندونې درلودې. د دوشنبې په ورځ د افغانستان لپاره د روسیې خاص استازي ضمیر کابلوف انټرفکس خبري اژانس ته وویل، موږ له طالبانو سره مستقیم تماس نه لرو. خو روسیه په افغانستان کې د ملي پخلاینې ملاتړ کوي، چې د هېر اهمیت لري. ده همداراز وویل: "که د طالبانو په منځ کې داسې کسان وي، چې دا ګام پورته کولی شي، موږ به له دوی سره خبرو ته تیار یو."

کابلوف له طالبانو سره د روسیې دوار مخکې شرطونو یادونه وکړه، چې د امریکا د روشرطونو ته ورته ول. کابلوف همداراز څرګنده کړې وه، چې د افغانستان امنیتي ځواکونه لا دا توان نه لري، چې د خپل هیواد د ټولو امنیتي چارو مسوولیت په غاړه واخلي. د کارپوهانو په باور، روسان په دې تمه کې دي، چې له افغانستان څخه د خارجي ځواکونو د وتلو په صورت کې بیا د افغانستان ډګر ته ځان رادننه کړي او بیا هم پخواني تجربې او تیروتنې تکرار کړي.

افغان سوداګر و له کراچي بندره د ...

وویل، چې د یادې ستونزې د حل په موخه ۸ ورځې مخکې د دغه وزارت او خصوصي سکټور د استازیو په ګډون یوه پلاوي هم پاکستان ته سفر وکړ. ده په وینا، چې له دغه پلاوي سره، کوم چې پرون هېواد ته راستون شوی د پاکستان حکومت ژمنه کړې، چې په ورځ کې به د افغان سوداګرو ۴۰۰ کانټینره توکي د کراچۍ له بندر څخه د افغانستان په لور حرکت کوي.

هغه زیاته کړه: ((که چېرې پاکستان په خپله ژمنه همداسې پاتې شي، نو په راتلونکیو درېیو اونیو کې به د افغان سوداګرو ټول توکي ولېږدول شي.))

ده وویل، پاکستان ژمنه کړې، چې له دې وروسته به د افغان سوداګرو توکي د کراچۍ له بندر څخه تر پېښور په اورګاډو کې هم لېږدول کېږي. د احدي د معلوماتو له مخې، چې په تېرو څوورځو کې د افغان سوداګرو ۵۸۶ کانټینره خوراکي توکي یې، چې د ژر خرابېدو له ګواښ سره مخ و، له کراچۍ بندره پېښور ته لېږدول شوي دي. دغه راز هغه زیاته کړه، چې ۴۰۰ کانټینره یاد شوي توکي به سبا له یاد شوي بندر څخه د هېواد پر لور راوخوځول شي.

ACKU

سفیر هالند مقیم کابل در گفتگو با روزنامهٔ اراده:

کشور هالند بسیار علاقمند است که در انکشاف و بازسازی افغانستان سهم فعالانه داشته باشد

مصاحبه کننده: محمد اسماعیل تیمور

س: عمده ترین پروژهٔ کشور هالند- برای بازسازی و نوسازی افغانستان در حال حاضر کدام هاست؟

ج: پس از حادثهٔ ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱ در نیویارک- جامعهٔ جهانی موافقت کرد که افغانستان را نخواهند گذاشت- بار دیگر میدان فعالیت تروریزم بین المللی گردد. در طی سی سال جنگ، تاسیسات اجتماعی و اقتصادی افغانستان تخریب شده و این کشور در فهرست- کشور های فقیر جا گرفته است. به شمول کشور های مختلف جهان- هالند علاقمندی نشان داد که در کار بازسازی و نوسازی و ایجاد دموکراسی پیشرفته- مساعی به خرج دهد.

اینک کشور هالند با سهمگیری در امر بازسازی و نوسازی در کنار سایر کشورهای کمک کننده- سعی دارد، تا افغانستان به پا ایستاده شود. در حال حاضر، همکاری ما با برنامهٔ بازسازی و همچنان با زراعت و آبیاری کشور در جریان است.

در سطع ملی، کشور هالند پشتیبان و حامی برنامه های دولت از جمله معاشات پولیس (LOTFA و ARTF) در کنار آن، تقویت سکتور و یا بخش کشاورزی و حاکمیت ملی دولت افغانستان می باشد.

س: چرا از این همه فاصله دور- علاقمند شدید که با افغان ها کار نمایید، این همکاری شما- از کدام سال ها با افغانستان ادامه دارد؟

ج: ما از ثبات منطقه یی- آرامش- دموکراسی- سعادت- کامیابی و احترام به حقوق بشر- لذت می بریم- این یافتهٔ ما- پس از جنگ جهانی دوم است. باور داریم که کشورهای دیگر نیز، با ما هم نظر اند. دولت و مردم هالند- به این عقیده اند که تمام انسان ها - باید شرایط لازم برای زنده گی کردن را داشته باشند- حق دسترسی به خدمات صحی- شرایط لازم آموزش و پرورش برای کودکان- احترام به حقوق فردی و اجتماعی و حکومتی که بتواند، با انواع ناهنجاری های اجتماعی- جنگ زدایی مبارزه کند.

به همین اساس- دولت و مردم هالند- برای ایجاد و تقویهٔ اساس های جامعهٔ مدنی از نیم قرن بدینسو- تلاش می ورزند، ما به این مسأله خیلی علاقمندیم که شاهد صلح- ثبات و پیشرفت های اقتصادی و امنیتی کشورها باشیم.

کشور هالند- از همان گذشته ها، همکاری های نزدیک با افغانستان داشته است- از سال ۱۹۹۰ بدنیسو- کمک های بشری هالند از طریق نماینده گی های ملل متحد- سره میاشت و موسسات داخلی و خارجی غیر دولتی به مردم افغانستان مبذول داشته شده است.

س: شیوهٔ بذل کمک های شما- اینجا چگونه است، آیا از طریق برنامه های حکومت افغانستان- داخل به عمل می آید، یا از طریق موسسات غیر حکومتی و یا هردو؟

ج: کشور هالند- کمک ها و همکاری هایش را با دولت افغانستان و برخی از موسسات غیر دولتی- در برنامه های مختلف انکشافی انجام داده و می دهد، تطبیق این برنامه ها، تا سال ۲۰۱۳ ادامه می یابد.

س: شما طی سال های کار در ولایت ارزگان چه دستاورد هایی داشتید- آیا از کارهای انجام شده در این ولایت راضی هستید- چرا ارزگان را ترک گفتید؟

ج: از اول اگست ۲۰۰۶ تا پایان جولای ۲۰۱۰ کشور هالند در ولایت ارزگان در ساحهٔ نظامی- انجام وظفیه نموده است؛ در این وظیفه که ۱۶۰۰ سرباز هالندی وعدهٔ از دیپلوماتان و متخصصان- توانستند، در عرصه های انکشافی- در امنیت - دیپلوماسی و انکشاف- کار نمایند.

هالند- بدین باور است، تا زمانی- آنان به همکاری های خود ادامه داده می توانند که به عنعنات ملی مردم افغانستان احترام گذاشته و روابط قوی و حسنه داشته باشند، انکشاف بدون امنیت و امنیت بدون انکشاف و همچنان انکشاف و امنیت احترام گذاشتند.

هالند در ارزگان- با شرکای افغان خویش در عرصه های مختلف همکاری کرده است.

آنان بودجهٔ جاده های میان چوری و ترینکوت را تدارک دیدند و همچنان سه بار در آنجا زمینهٔ پرواز طیارات ملکی مسافربری را از ترینکوت به کابل ممکن ساختند.

دولت هالند- با شماری از سکتور های خصوصی دز ارزگان در زمینه های انکشافی کار نموده است که آنان بتوانند- برای بهبود وضع اقتصادی ارزگان و بازسازی آن کار نمایند.

کشور هالند- کمک های خود را در چارچوب برنامه های انکشافی ملی در بخش زراعت و آبیاری انجام داده است و یک میلیون نهال را در ولایت ارزگان غرس نموده است و بند های کوچک آبگردان و چاه های آب آشامیدنی را حفر نموده است.

تعداد کلنیک ها یا مراکز صحی کوچک به دو چند یعنی ۲۰۰ مرکز صحی رسید.

در شمار مکاتب افزونی به عمل آمد؛ در سال ۲۰۰۶ در ارزگان ۳۴ مکتب موجود بود، مگر حالا به ۱۵۹ مکتب ارتقا یافته است که از آن جمله ۲۹ مکتب آن دخترانه می باشد.

شمار رسانه های همگانی از سه به ۸ بالا رفته و همچنان در سایر عرصه ها از جمله تولید انرژی برق کارهایی انجام شده است؛

خلاصه اینکه در موجودیت چارسال کاری- هالند- با این فکر ارزگان را ترک گفت که هیأت نظامی آنان در این مدت توانستند، کارهای خود را در عرصه های امنیتی و انکشافی- خاصتا در مقایسه با سایر ولایات جنوبی، به خوبی انجام دهند.

س: تا چه زمانی علاقه دارید- با افغان ها کار نمایید؟

ج: برای هالند ادامهٔ روابط با افغانستان مهم است، در شرایط بسیار سخت- افغانستان به دستآوردهای بزرگی نایل شده و اما هنوز کارهای انجام نیافتهٔ زیادی باقی است که افغانستان را به حالت عادی برگرداند- ترقی- دموکراسی و فضای خوب زنده گی که در آن افغانان بتوانند، زندگی و آینده خوب داشته باشند.

می خواهم بگویم- که دولت هالند و نهادهای مختلف مدنی در هالند جوامع- کاری و شغلی و مردم هالند بسیار علاقه دارند که بودجه و وقت خود را برای بهتر شدن افغانستان مصرف نمایند.

هالند سعی می کند که توجه بیشتر به حقوق بشر و از جمله حقوق زنان مبذول شود.

همکاری هالند در بخش های انکشافی در سطح ملی ادامه می یابد؛ دولت هالند در جستجوی امکاناتی است- تا بتواند در خط تربیه پولیس افغانستان مخصوصاً در ولایت کندز مطابق پروگرام عدلی و قضایی همکاری کند و همچنان به این کوشش است، تا بتوانیم، به وسیلهٔ انکشاف اقتصادی و روابط تجارتی میان دو کشور در زمینه های کاری و شغلی- خدماتی را انجام دهیم.

س: انگیزه و علاقمندی شما جهت همکاری و کمک به افغانستان از کجا به وجود آمد؟

ج: در اواسط دههٔ نود از سال ۱۹۹۴ الی ۱۹۹۷ چند ین بار از نقاط متعدد افغانستان بازدید کردم. به دستور وزیر مربوط وقت، در هالند مشوره های لازم را در نحوهٔ استفاده از امکانات موجود در جهت توسعهٔ همکاری های انکشافی و به کار گرفتن بودجهٔ تعیین شده جهت ایفای کمک های بشر دوستانه در افغانستان به ایشان باید تقدیم می کردم.

ما در آغاز کوشش ص ۳

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده بیست و پنجم: ۴- این کنوانسیون جهت الحاق کلیه دول مفتوح میباشد اسناد الحاق به سرمنشی ملل متحد باید سپرده شود.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com